Pearson

# د پوهی اوهوښیاری دآزموینی معنی څه دي؟



ولی دا آزموینه  په خاص ټوګه ستاسو د پاره د ارزښت وړ دي؟ په عامه توګه ویلای شو چه ددي آزموینی  په مرسته معلومیږی چه یو ماشووم  یا ځوان سړ ی یا پیغله  تر کومه حده پوری  د عقل ا ود  پوهی خاوندان  دي.د دی امتحان په مرسته تاکل کیږی چه  کومه  ښونځی  ستاسو دپاره بهتره ده. او ستاسو ژبه د ښونځی د کوم صنف سره  سم دي.

دا تاسو سره دیره مرسته کولای شی ، چه تاسو  خپله وپوهیږی،  چه تر کومه حده پوری ستا سو ژبه مخ ته  تللی ده. ددی آزموینی په مرسته تاسو ښودلای شي چه  تاسو  څومره  ژبه  زده کړی ده.

دا آزموینه دیری لاری لری.  یوه لاره  مونږ ته ښکاری چه تر کومه حده پوری تاسو کولای شي چه پوښتنو ته  بیله کاغذ یا قلمه او  یواځی د خپل ذهن په مرسته ځواب ورکولاي شی. یا ستاسو ژبی  تر کومه حده پوری پر مختګ کړی دی.  داسی چه تاسو  هر شی  بیله مرسته زده کولای شی، که د زده کولو  په وخت  کښی مرستی ته اړتیا لري.

دا آزموینه  په بیلابیلو توګو اخیستل  کیږی. یوه لاره دا ده چه یو معلم تاسو نه پوښتنی کوي او تاسو د خپل وس سره سم د پوښتنو ځواب ورکوی. او معلم ستاسی ځوابونه پر یو ه پا ني  لیکی. د مثال په توګه تاسو نه غوښتل کیږی چه یوه  نیمګړی انځور  پوره کړی. یا د شیانو نومونه په دیره کمه موده کي زده کړی. یوه بله لاره دا ده چه تا سو یوه نیمګړه کیسه د خپل فکر په مرسته پوره کړی یا یوه ګنګسه او ګډوده کیسه بیرته او په سمه توګه ووایی . په داسی حالاتو کي دا خو واضح خبره ده چه تاسو د امتحان په وخت کښی د فکر کولو د پاره وخت غواړی. یا د هری پوښتنی ځواب تاسو ته معلومه نه وي.

خو بیا هم ښایی چه تاسو د آزموینی   پر وخت خبری و نکړی. د هوښیاری آزموینه  په وخت  خبری کول بلکل منع دي. او دا شرط  دآزموینی په تولو برخو کښی د پاملرنی  وړ دی. هری  پوښنتی ته باید د عکسو او  لاسونو په مرسته ځواب ورکړای  شی. مهمه دا دي چه هیڅ کړم دار یا ویړه  و نه لري. هر چا ته ښکاره  دهُ چه بیله خبری کولو نه هری پوښتنی ته  سم ځواب ورکول آسانه نه دیر.

په دي آزموینی کی برخه اخیستل  ستاسو پخپل  واک دی. که چیری  تاسو نه غواړی چه په دی آزموینی کی   برخه ونیسی، کومه خبره نه ده. خو دا آزموینه تاسو ته دا امکان وړکوی چه هغه مرسته تر لاسه کړی، چه ستاسو د پره د ارزښت وړ وي.

Du finder mere information på **www.pearsonassessment.dk/wnvinfo**

Pashto